مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: سيلانی

۲۰۲۶/۰۵/۲۷

# د ميرويس خان هوتک، د سکې يادونې تاريخي مسير

د ميرويس خان هوتک په نامه د سکې د وهلو مسئله له ډېرو کلونو راهيسې د افغان او بهرنيو ليکوالانو، مورخينو او څېړونکو ترمنځ د بحث موضوع ده. ځينو ليکوالانو دا روايت د ميرويس نيکه د خپلواکۍ، سياسي واک او سلطنتي مشروعيت نښه بللې، خو ځينو نورو بيا د فزيکي سکې، عکس، موزيمي ثبت او نوميسماتيک سند د نهشتون له امله پر دې روايت شک کړی دی. د دې موضوع د دقيقې ارزونې لپاره تر هر څه لومړی بايد دا وڅېړل شي چې د سکې د وهلو روايت له کومه ځايه راپيل شوی، د کومو آثارو له لارې تر موږ را رسېدلی او د هر ليکوال تر شا اصلي مأخذ څوک دی. په همدې موخه، په دې ليکنه کې د افغان، عراقي، ترکي او اروپايي منابعو د نقل سلسله څېړل کېږي، څو څرګنده شي چې د ميرويس نيکه د سکې د روايت فکري او تاريخي ريښې تر ډېره د عثماني امپراتورۍ په سفارتي او استخباراتي منابعو کې پرتې دي.

په افغان ليکوالو کې محترم استاد معصوم هوتک په خپله يوه ليکنه کې د محترم خليل‌الله خليلي د مقالې پر بنسټ ليکي چې ميرويس نيکه په خپل نوم سکه وهلې وه. ښاغلي خليلي دا موضوع د «سکه ميرويس نيا» تر سرليک لاندې په ژوندون مجله کې ياده کړې وه. د ښاغلي هوتک د حوالې له مخې، خليلي ليکي چې کله يې په بغداد کې له عراقي مورخ عباس العزاوي، د تاريخ العراق بين احتلالين له ليکوال سره وليدل، العزاوي هغه ته د خپلو سکو له کلکسيون څخه يوه نقره‌يي سکه وښوده چې د ميرويس خان هوتک په نامه وهل شوې وه. خليلي همدارنګه زياتوي چې عباس العزاوي د خپل اثر تاريخ العراق بين احتلالين په پنځم ټوک کې هم د ميرويس نيکه د سکې يادونه کړې او د سکې بيت يې داسې راوړی دی: «سکه زد بر درهم دارالقرار قندهار / خان عادل شاه عالم ميرويس نامدار«.

د دې روايت د اصل د موندلو لپاره بايد له عباس العزاوي څخه بېرته د هغه مأخذ ته لاړ شو. العزاوي دا خبره د تاريخ راشد په حواله راوړې. تاريخ راشد د عثماني رسمي مورخ رأشد محمد افندي Râşid Mehmed / Efendiاثر دی. راشد محمد افندي د عثماني دولت وقايع‌نګار، شاعر او منشي و؛ شاوخوا په ۱۶۷۰م کال په استانبول کې زېږېدلی او په ۱۱۴۸هـ/۱۷۳۵م کال کې مړ شوی دی. هغه په ۱۷۱۴م کال کې د عثماني دولت د رسمي وقايع‌نګار په توګه وټاکل شو او د نعيما له پاتې شوي ځايه يې د عثماني دولت د پېښو ليکلو ته دوام ورکړ.
خو په تاريخ راشد کې د ميرويس خان د سکې خبره د راشد محمد افندي د خپل مستقيم روايت په توګه نه ده راغلې، بلکې د احمد دُرّي افندي د ايران د سفارتي راپور يا سفارت‌نامې په متن کې راوړل شوې ده. راشد تر هغه وروسته چې له ايران څخه استانبول ته د دُرّي افندي د راستنېدو خبره کوي، ليکي چې نوموړی د عثماني دولت له خوا د ايران شاه ته د سفير په توګه استول شوی و، خپل مأموريت يې بشپړ کړ، بېرته استانبول ته راوګرځېد او له هغه ځواب‌ليک او راپور څخه چې راوړی يې و، د حالاتو حقيقت څرګند شو. تر دې عبارت وروسته راشد د يوې جلا برخې سرليک داسې ليکي«Takrîr-i Elçi-i müşârün-ileyh» :؛ يعنې «د ياد شوي سفير راپور». همدا سرليک او د متن داخلي قرينې ښيي چې راتلونکی بيان د راشد خپل مستقل روايت نه، بلکې د دُرّي افندي د سفارتي راپور نقل دی.

د همدې راپور په منځ کې، د ايران د عمومي سياسي او پوځي وضعيت د بيان پر مهال، د کندهار او ميرويس خان خبره راځي. د متن له اسلوبه هم ښکاري چې دا د سفير د مشاهداتو، معلوماتو او مأموريتي ارزونې برخه ده؛ ځکه په متن کې د لومړي شخص تعبيرونه او ضماير، لکه «biz»، «ben»او «bu kulları»کارول شوي دي. په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

همدې برخه کې کندهار د ایران له مهمو کلاوو څخه یادېږي او ویل کېږي چې د هند پر سرحد د میرویس خان د خروج ځای و. وروسته د میرویس خان په اړه مشهور عبارت راځي «Mezbûr Mir Üveys bin yüz on sekiz senesinde Kandehar havâlisinden hurûc edüp... altı seneye dek bu minvâl üzre hükûmet ve sikkei ve hutbeyi kendü nâmına okudup, hattâ sikkesi bu beyit idi.» معنا دا ده چې: «یاد میرویس په ۱۱۱۸هـ کال کې د کندهار له شاوخوا راپاڅېد... شپږ کاله یې په همدې ډول حکومت وکړ، سکه او خطبه یې په خپل نوم کړه، حتی د هغه سکه دا بیت و.» بیا د سکې بیت په عثماني/فارسي بڼه داسې راځي: «سکه زد بر درهم دارالقرار قندهار / خانِ عادل، شاهِ عالم، میر اویس نامدار«.

له دې ځایه د استاد معصوم هوتک د نقل سلسله په روښانه ډول داسې جوړېږي: معصوم هوتک د خلیل‌الله خلیلي د «سکهٔ میرویس نیا» مقاله رااخلي، خلیلي دا خبره له عراقي مورخ عباس العزاوي سره د خپلې لیدنې او د هغه له کتاب تاریخ العراق بین احتلالین، پنځم جلد څخه نقلوي، عباس العزاوي بیا صراحتاً دا روایت د تاریخ راشد په حواله راوړي او تاریخ راشد کې دا خبره د راشد محمد افندي د خپل مستقل روایت په توګه نه، بلکې د دُرّي احمد افندي د ایران د سفارتي راپور په برخه کې راغلې ده. د موجودو شواهدو له مخې، دُرّي افندي د دې خبرې لپاره تر خپل راپور شاته کوم مشخص شخص یا کتاب نه یادوي، بلکې دا یې د ایران د حالاتو د مشاهدې، سفارتي اړیکو او مأموریتي معلوماتو په چوکاټ کې راوړې دي. دا ټکی ځکه مهم دی چې دُرّي افندي یوازې تشریفاتي سفیر نه و؛ بلکې د صفوي دولت د کمزورۍ، د ایران د داخلي وضعیت او د سیمې د سیاسي حالت د ارزونې مأموریت هم ورسپارل شوی و.

ما په خپله لیکنه «ذکر سکه میرویس در گزارشات دولت عثمانی» کې پر دوو مهمو عثماني مسیرونو اتکا کړې وه. لومړی مسیر دُرّي احمد افندي دی، چې وروسته محمد حبیب ساچمالي هم په خپله دکتورا رساله کې ورته اشاره کړې ده. ساچمالي د میرویس خان د سکې او خطبې موضوع د تاریخ راشد او د دُرّي افندي د سفارتي راپور په رڼا کې څېړي. له همدې امله، د ساچمالي نقل هم په نهایت کې دُرّي احمد افندي ته رسېږي. توپیر دا دی چې زموږ په کورنیو لیکنو کې تر ډېره دا سلسله په بشپړ وضاحت نه وه روښانه شوې، حال دا چې د روایت د اعتبار د ارزونې لپاره د نقل د همدې سلسلې پېژندل ډېر مهم دي.
دوهم مسیر د اورهان یازیجي له لیکنې سلسله ده. اورهان یازیجي د میرویس خان هوتک د سکې د وهلو خبره په خپله لیکنه کې د بدرالدینزاده میرلیوا علي بېګ د عثماني استخباراتي راپور Kaa'ime: H.1117–1135 / 1705–1723په حواله راوړي. د یازیجي د نقل سلسله داسې ده: اورهان یازیجي ← بدرالدینزاده میرلیوا علي بېګ، ← Kaa'imeد عثماني سرحدي استخباراتي راپور په حواله راوړې ده. په همدې نقل کې علي بېګ تر خپل راپور شاته کوم مشخص شخص یا کتاب نه یادوي، بلکې دا معلومات د خپل استخباراتي راپور د یوې برخې په توګه وړاندې کوي.

بدرالدینزاده میرلیوا علي بېګ د ګرس/زاروشاد د سرحدي سیمې عثماني مأمور، میرلیوا او استخباراتي راپور ورکوونکی و. هغه د ۱۷۲۲م کال په مني کې د ایران، ققفاز، داغستان، شېروان، روسي خطر او افغان واکمنۍ په اړه خپل Kaa'imeراپور صدر اعظم ابراهیم پاشا ته وړاندې کړ. نوموړی د دُرّي احمد افندي معاصر و، خو د مأموریت ساحه یې له دُرّي سره توپیر درلود: دُرّي افندي د ایران دربار ته رسمي سفیر و؛ خو بدرالدینزاده علي بېګ د عثماني ختیځ سرحد له ګرس/زاروشاد څخه د ایران، ققفاز او سرحدي بدلونونو استخباراتي څارونکی و. له همدې امله ویلای شو چې د میرویس خان د سکې په اړه دویم مهم مسیر هم د عثماني دولت له منابعو څخه راځي؛ خو دا مسیر د دُرّي افندي له سفارتنامې جلا او مستقل عثماني استخباراتي مأخذ دی.

بل اروپایي شاهد جوناس هانوي دی. هانوي په خپل کتاب The Revolutions of Persia، چاپ لندن، ۱۷۵۳م، کې د میرویس خان هوتک د ژوند او سیاسي مبارزو په بحث کې د هغه د سکې یادونه کوي. هغه لیکي چې میرویس د پاچاهۍ لقب غوره کړ، خطبه یې په خپل نوم وکړه او د خپلواکۍ نورې نښې یې ځان ته منسوبې کړې؛ بیا د سکې پر شاوخوا د فارسي بیت معنا راوړي. خو په دې ځای کې هانوي د خپل نقل لپاره کوم صریح مأخذ، کتاب یا شخص نه یادوي. د هغه د اثر په ځینو ځایونو کې د عثماني/ترکي راپورونو او د صفوي سقوط د معاصرو اروپایي روایتونو نښې لیدل کېږي، خو د میرویس د سکې لپاره یې مشخصه سرچینه نه ده روښانه کړې. له همدې امله، هانوي باید د احتیاط له مخې د سکې د روایت یو موازي اروپایي شاهد وګڼل شي، نه د دُرّي افندي یا بدرالدینزاده علي بېګ د صریح عثماني سلسلې برخه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له دې تولې څېړنې څخه ښکاري چې د میرویس نیکه د سکې روایت یوازې د وروستیو افغان لیکوالانو یو بېرېښنه ادعا نه ده؛ بلکې تر شا یې څو تاریخي مسیرونه شته. یو مسیر له معصوم هوتک، خلیل‌الله خلیلي او عباس العزاوي څخه تېرېږي او تاریخ راشد ته رسېږي، چې په نهایت کې د دُرّي احمد افندي د ایران سفارتي راپور ته منسوب دی. بل مسیر د اورهان یازیجي له لارې بدرالدین‌زاده میرلیوا علي بېګ او د هغه عثماني استخباراتي راپور Kaa'imeته رسېږي. درېیم مسیر د جوناس هانوي اروپايي روایت دی، چې د سکې یادونه کوي، خو خپل دقیق مأخذ نه څرګندوي.

پایله دا ده چې د میرویس خان هوتک د سکې د وهلو روایت، تر هغه ځایه چې د معلومو او مستندو نقلونو سلسله یې تعقیبېږي، د عثماني امپراتورۍ په سفارتي او استخباراتي منابعو کې رېښنه لري. دُرّي احمد افندي د عثماني دولت سفیر و، تاریخ راشد د عثماني رسمي وقایعنګار اثر دی. بدرالدین‌زاده میرلیوا علي بېګ د عثماني سرحدي استخباراتي مأمور و او عباس العزاوي هم خپل عربي نقل د تاریخ راشد په حواله راوړی دی. له همدې امله، د هغو لیکنو او آثارو بنسټیز مراجع چې د میرویس نیکه د سکې خبره یې په صریح سندي سلسله راوړې، د عثماني دولت منابع دي. البته تر اوسه د دې سکې فزیکي نمونه، موزیمي ثبت، عکس، وزن، قطر او نومیسماټیک کتالوګي معلومات په لاس کې نشته، نو علمي احتیاط دا ایجابوي چې ووایو: د تاریخي روایت له مخې، میرویس خان سکه او خطبه په خپل نوم کړې وه، خو د سکې مادي نمونه لا تر اوسه په نومیسماټیک ډول نه ده تثبیت شوې.


منابع
۱ .معصوم هوتک، «د میرویس نیکه په نامه وهل سوې سکه.»
۲ .خلیل‌الله خلیلي، «سکه میرویس نیا»، ژوندون مجله، ۱۱ جوزا ۱۳۵۳هـ ش، مخ ۱۹.
۳ .عباس العزاوي، تاریخ العراق بین احتلالین، جلد پنجم، د «حوادث الافغان» برخه.
۴. رأشد محمد افندي، Târîh-i Râşid ve Zeyli او د راستنېدو د دُرّي افندي د «Takrîr-i Elçi-i müşârün-ileyh» برخه.
۵. احمد دُرّي افندي، ایران سفارتنامه /İran Sefaretnamesi.
۶. Muhammet Habib Saçmalı, Sunni-Shiite Political Relations in the First Half of the Eighteenth Century and Early Modern Ottoman Universal Caliphate, PhD Dissertation, University of California, Davis, 2021.
۷. Orhan Yazıcı, “Safevî Hanedanlığı’nın Çöküşünde Afgan Aşiretlerinin Rolü.”
۸. Bedreddînzâde Mirliva Ali Beğ, Kaa’ime: H.1117–1135 / 1705–1723.
۹. Jonas Hanway, The Revolutions of Persia, London, 1753.
۱۰. د ترکیې اسلامي دایرةالمعارف، د Râşid Mehmed Efendi او Dürrî Ahmed Efendi مادې.


**S**




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ